# د قيامت په ورځ به تر ټولو سخت عذاب هغه چاته ورکول کيږي چې د الله جل جلاله مخلوقات انځوروي

له ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايې چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم په داسې حال کې راغی چې ما د خپلو کاليو صندق په يوې تکې سره پوښلی و چې انځورونه پکې وو، نو کله يې چې وليده بدو يې وګڼله، رنګ يې تغير شو او ويې فرمايل: «ای عائشې د قيامت په ورځ به تر ټولو سخت عذاب هغه چاته ورکول کيږي چې د الله جل جلاله مخلوقات انځوروي» عائشې وويل: نو هغه تکه (ټوکر) مو څېرې کړ «او يو يا دوه بالښتونه مو ترې جوړ کړل».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل کور کې عايښې رضي الله عنها ته ورغی نو په داسې حال کې يې وليده چې هغې خپل هغه صندق چې کالي پکې ايښودل کيږي په داسې يوه ټوټه پوښلی و چې د ذی روحه شيانو انځورونه پکې و، نو د الله لپاره غصه شو، رنګ يې بدل شو، او ويې فرمايل: د قيامت په ورځ به تر ټولو زيات عذاب د هغو خلکو وي چې په انځورګر کې د الله جل جلاله مخلوقات انځوروي. عايښه وايي: نو يو يا دوه بالښتونه مو ترې جوړ کړل.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5931